مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۸ / ۰۳

## د ماضي يارانه

ورکه دې اینده کړه، د ماضي په یارانه کې
لاړ در نه وختونه، د نیکونو افسانه کې
واوښتي پېړۍ نور، د حجر زمانه تېره شوه
اوسې لا په فکر، د حجر په زمانه کې
ذهن دې مصروف دی، د خوبونو تعبیرونو کې
لاس و پښې دې بند دي، د دودونو زولانه کې
خیال کې د جنت اوسې، خو ژوند په دوزخونو کې
دو، دې دا دنیا کړه، د عقبی په نذرانه کې
تېر شو «مرادزیه» وخت دې کوڼ ولس ته سندرو کې
زیات څه پاتې نه دي نور، د عمر خزانه کې
جار دې شم ساقي له غم مې بیا درته پنا راوړه
زیات کړه یو ګوټ نور هم، د ګوټونو پیمانه کې
د ۲۰۲۳ کال د اګست درېیمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ